الحاج مولوي زين الله منلی ۲۰۱۳/۰۶/۲۵

# د ټولني د پراختيا عامل

ترڅو چي ټولنه پراختيا او انکشاف ونه کړي، ترهغي پوري دغه ټولنه له هرډول بدمرغيو او کړاوونو سره مخامخ وي اوبدبختي او خواشيني يي لازمه ده.
کومه ټولنه یاجمعیت چي غواړي له خواشینی څخه ځان وژغوري او د افرادو ترمنځ يي وروروليي پيداشي، بايد کوشش وکړي چي د پراختيا او انکشاف خاونده شي. ترڅويي چي پراختيا او انکشاف نه وي کړی، ترهغي پوري د دغي ټولني نیکمرغي ياخوب او خيال او يا خوتش بی معنی تصور دی. د دغه خوب ، خيال او تصوور او واقعي نیکمرغی او ښه انساني ژوند ترمنځ لايتناهي واټن موجود دی، چي د خيال پرستی د مبدآ له نقطي څخه د واقعيت د انجام ترنقطي پوري رسيدل محال کاردی. حتی په دغه لار کي لاس پښي وهل عبث او تریوڅه وخته پوري د خلکو غولول دي.
د ټولني پراختيا او انکشاف په خپله منځ ته نه راځي اوپه ټينګه لاس او پښي وهل غواړي. دا چاره عامل لري اوبايد له دغه عامل څخه په زړه پوري کار واخستل شي ترڅو چي د ټولني د پراختيا او انکشاف سبب شي، خلک په کي د هوسا او نيکمرغه ژوند خاوندان شي او هر څوک له خپل ذهني او عملي استعداد سره سم د يوڅه شخصيت څښتن وګڼل شي، ځان وپيژني اوپه لاشعوري ډول په ړندو سترګو د نورو پړی په غاړه نه شي.
د ټولني د پراختيا اوانکشاف عامل فکري خپلواکي او حريت دی. که فکري خپلواکي او حريت په کومه ټولنه کي پيداشي نو پل په پل د نيکمرغی په لور په وړاندي ځي؛ د ببرته پاته کېدو په عواملو پښي ږدي او تري تيرېږي.
بيکن وايي: هغه وخت چي زموږ يعني د اروپايانو پلرونه او نيکونه د جهالت په تورتم کي پراته وو او د ځنګليانو په څېر يي ژوند کاوه د ايشا خلک، د په زړه پوري مدنيت اوثقافت خاوندان وو.
له هغو عواملو څخه چي اروپا يي په پښو ودروله او د پراختيا او انکشاف په لوی او ستر واټ يي روانه کړه يوازي او يوازي اساسي او مهم عامل يي فکري خپلواکي او حريت دی. ترکومه وخته پوري چي په کي فکري خپلواکي نه وه، ترهغه وخته پري د جهالت د تورتم پردي پرتي وي او دا لوی جهان پري تنګ و اوله کومه وخته يي چي د فکري خپلواکی دلاس اوپښو زنځيرونه مات کړل اروپا هم په نړۍ کي سياله شوه او د زياتي پاملرني وړ وګرځېده.
په آسيا او خصوصاً د هغه وخت په چين کي د ببرته پاته کېدو عامل د فکري خپلواکی سلب بولي او وايي: چي د آسيا د ببرته پاته کېدو مهم عامل دا دی چي په آسيا کي پر فکري خپلواکی قيود لګول شوي دي او همدغه قيود دي چي آسيا ورځ په ورځ په شاټ بيايي او په ډيرو نا خوالو يی اخته کړی. که چېرته يکي کوم د فکر خاوند پيداشي او د دوی په ګټه دوی ته کومه مفکوره وړ وړاندي کړي او د دوی د ميراثي او خنثی افکارو سره يوڅه ضديت اونقاضت ولري سم د واره - د دي پر ځای چي د دغي مفکوري د خاوند لمانځنه وکړي، او مفکوره يي ترعلمي تحقيق او څيړني لاندي ونيسي ؛ ده ته به بپلو، بپلو نومونو جزا او فشار ورکولو باندي پيل کوي، يا يي وژني او يا يي داسي چوپ کړي، چي ترمرګه بيا خوله نه پرانيزي اوکه د نورو په زړه کي هم څه نوي غوندي فکر وي هغه هم له همدغه ځايه د عبرت درس زده کوي اوپه پای کي د ټولني عمومي يون د عليين پر ځای د تحت الثري په لورشي.
څرنګه چي د بيکن له فلسفي تحقيق څخه معلومه شوه چي د ټولني د پراختيا عامل فکري خپلواکی او حريت دی او د دغي مدعا د ثبوت دليل هم واقعيت دی چي موږ يي د سر په سترګو ګورو، نو لازمه ده چي هغه ټولنه چي غواړي پراختيا او انکشاف وکړي فکري خپلواکی او حريت ته په درنه سترګه وګوري او د ټولني په افرادو کي د فکري خپلواکی د لمانځلو حس ژوندی کړي او ويي روزي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په څير و لولئ

کله چې فکري خپلواکي په کومه ټولنه کې منځ ته راغله معلومه او جوته خبره ده چې کله، کله د افرادو د افکارو ترمنځ تضاد لیدل کېږي او ترعمیق بحث اوڅېړني نه وروسته دغه تضاد له منځه ځي او واحد مترقي فکرمنځ ته راځي چې ټولنه په یومخ په وړاندي بیایې. خولکه څرنګه چې د افکارو ترمنځ تضاد پیداشي اوترهغه وخته پوري چې ترڅو د وحدت صورت مومې، د افرادو ترمنځ هم کړکېچ، د خپل بري او د مقابل د لري عملي فعالیتونه شروع کېږي او تصادمات پېښېږي، د دی له پاره چې د پراختیا عامل او فکري خپلواکۍ وده او نمو وکړي په دولت کښې یو حاکم مترقي قدرت ته اړه اوضرورت دی، چې فکري خپلواکي د ټولو تضادونو سره سره د دغو تضادونو د وحدت په هیله او انتظار حمایه کړي او د افرادو ترمنځ د تصادم مخه په پوره شعور اوفهم ونیسي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ